AjSO
Afghanistan Journalists Support Organization

د مې درېیمه د رسنیو د ازادۍ نړیواله ورځ او په افغانستان کې د رسنیو د ازادۍ وضعیت

۱۴۰۳ - ۲۰۲۴

په کال ۱۹۹۱ کې یونیسکو « په نړۍ کې د مطبوعاتو د خپلواکۍ پیاوړتیا» ترنامه لاندې یو پرېکړهلیک تصویب کړ، چې پر بنسټ یې له ملګرو ملتونو غوښتل شوي وو، چې د هرکال د مې درېیمه نېټه دې د رسنیو د ازادۍ د نړیوالې ورځې په توګه اعلان کړي .ملګرو ملتونو د ۱۹۹۳ کال د دسمبر د شلمې نېټې په اته څلویښتمه غونډه کې دغه ورځ رسماً د رسنیو د ازادۍ د ورځې په نامه ونومولە، چې سرچینه یې په همدې ورځ د افریقایي خپلواکو خپرونو د پیاوړتیا لپاره د « ویندهوک اعلامیې» د خپرېدو کالیزه وه .

تر دې نېټې راروسته د لویو رسنیو مدیره هیئتونه، د بیان او رسنیو د ازادۍ اړوند نړیوال بنسټونه او خپلواک شنونکي په نړۍ کې د بیان او رسنیو د ازادۍ د ېلابېلو حالاتو وضعیت څاري او د یوه بشري حق او ولسواک اصل په توګه د رسنیو د ازادۍ ارزونه په ېلابېلو هېوادونو کې ترسره کېږي .

مورِ د ۲۰۲۴ کال د مې د میاشتې درېیمه نېټه په داسې خواشینو شېبو کې لمانځو، چې په افغانستان کې د رسنیو د ازادۍ حق او اصل تقریباً زیندۍ شوی او د فشار، سانسور او محدودیتونو کړۍ ورځ په ورځ تنګېږي .

افغانستان، چې په خپل معاصر تاریخ کې یې له ۲۰۰۱ څخه تر ۲۰۲۱ پورې پوره شل کاله د بیان او رسنیو د ازادي، مدني ټولنې او ولسواکي یوه زرینه دوره تجربه کړه او په دې موده کې د څومره والي له اړخه ډېر او تر یوه بریده د څرنګوالي له نظره هم پرمختګونه وشول او ټولنې ورو ورو د متقابل اعتماد د ټولنیز قرارداد په توګه له رسنیو او د بیان د ازادۍ له اصل سره عادت کاوه .په روستیو کلونو کې ورو ورو رسنۍ په دې حقیقت پوهېدې، چې د ژوندي پاتېدا لپاره باید ریښتیا، دقت، چټکتیا، اصالت، اخلاقو او قوانیونو ته ژمن اوسي او مسلکي اصولو ته پام زیات کړي .د خبریالۍ په لوړو ژورو کې هغه ژېړې لکې، چې د دغو دوو لسیزو په منځنیو کلونو کې راڅرګندې شوې وې، په روستیو کلونو کې د ژورنالیزم اخلاقو، مسلکي اړونو او د اعتماد له بحران څخه د ځانژغورنې د هڅو د پیاوړتیا پر بنسټ بېرته تټبدې او افغان رسنیزه کورنۍ لګیا وه، چې د یوې ځوانې ولسواکۍ د څلورم رکن په توګه یوه خپلواکه او مسلکي رسنیزه ټولنه هم رامنځته کړي .

د ۲۰۲۱ کال د اګست په ۱۵ د افغانستان د اسلامي جمهوريت په راپرځېدو هرڅه پای ته ورسېدل او ازادي رسنۍ يوځل بيا د زنځيرونو او هتکړيو په ولونو کې زنداني شوې .بدي يې دا ده، چې دغه کړۍ او هتکړۍ ورځ تر بلې راتنګيږي .

په ټېرو نړۍ درېيو کلونو کې د رسنيو د ازادۍ په وړاندې سانسور او استبدادي چلند ورځ تربلې زياتيږي .په لومړيو پراوونو کې اندېښنې دا وې، چې د رسنيو شکلي، تخنيکي، اقتصادي او تشکيلاتي جوړښتونه تر فشار لاندې دي، چې په هغو کې پر ښځينه خبريالانو ورځ تر بلې زياتېدونکي بنديزونه او خنډونه، په ملي کچ د اقتصادي ستونزو له کبله د رسنيو د مالي سرچينو په ټپه درېدل، د خبريالانو کوابنل، نيول، ربړول او ان وژل يا له هېواده وتلو ته اړ ايستل او په موسيقي و نورو تفريحي – هنري پروګرامونو بنديزونه يې ښلګې ګڼلای شو .خو له نړۍ يوه کال را په دېخوا د رسنيو د محتوايي توليد په څرنګوالي هم بنديزونه لګول راپيل شول . د نويو بنديزونو او سانسور په ترڅ کې واکمنه ډله رسنيو او رسنوالو ته امر و نهی کوي، چې څه ووايي او څه ونه وايي .څوک څه ډول معرفي کړي او له چا سره کوم القاب وکاروي .

پر رسنيزې محتوا د محدوديت او بنديزونو لګول، د سانسور روستنی برېد دی، چې د رسنيزو د ازادۍ تشه ادعا هم له منځه وړي .

لويه ستونزه لاهم دا ده، چې د دې ټولو محدوديتونو په اړه وارله مخه کوم ليکل شوی قانون يا طرزالعمل نشته، د قانون په غياب کې په افغانستان کې دننه فعال رسنوال نه پوهيږي، چې کوم اقدام يې جرم ګڼل کيږي او ولې؟

د داسې مهم او موهوم وضعيت يو روستنی قرباني په غزني کې د ازادۍ راډيو خبريال حبيب الرحمان تاثير دی .نومورې د روان ۱۴۰۳ کال د حمل د مياشتې په ۱۸ مه نېټه د طالبانو د استخباراتو له خوا ونيول شو او وروسته يې په اړه وويل شول، چې ګواکې مقدساتو ته د سپکاوي په تور نيول شوی او زنداني دی .هيڅوک نه پوهيږي، چې هغه څه کړي، چې مقدساتو ته سپکاوی ګڼل کيږي؟ ربړه خو دا ده، چې د خبريالانو او رسنيو د تخطيو لپاره نه کوم فعال کميسيون شته، نه ځانګړي پوليس، محکمه، مدافع وکيل او نور حقوقي لوايح، چې په دې اړه

ځانګړي احکام یا قوانین پلي کړای شي .

پر رسنیزو تخطیو د څار او حقوقي تعامل لپاره د قانوني جوړښتونو په داسې تشه کې په ټپرو دوه نیمو کلونو کې ټول ټال ۲۵۰ رسنیو د فعالیت توان بایللی او د دوو نورو رسنیو فعالیت د محکمې تر حکم پورې ځنډول شوي دي.

د رسنوالو په وړاندې تر ۳۰۰ زیات د تاوتریخوالي پېښې ثبت شوي دي، چې په کې زنداني کول، لنډمهالی توقیف، احضار، شفاهي ګواښ او د امارتي غوښتنو جبري منل شامل دي.

له افغانستان څخه د وتلو خبریالانو په اړه کره شمېرې لاهم نشته، خو لسګونه خبریالان وتلي، یا هم په درېیمو هېوادونو کې خپلو کېسونو ته په تمه دي.

په ټپرو څه کم درېیو کلونو کې دوه خبریالان مړه دي، چې د مرګ لامل یې مخامخ د دوی په کار پورې اړه نه لري.

د طالبانو په بندخونو کې اوسمهال څلور خبریالان زنداني دي، چې یوازې د یوه دوسیه یې د خبریالۍ ده، نور یې ظاهراً په جرمي کیسونو زنداني دي.

هغه شمېر افغان خبریالان چې له هېواده وتلي، هم له مسلکي پلوه په ښه وضعیت کې نه دي .

په پاکستان، ایران او د سیمې یو شمېر نورو هېوادونو ته تبعید شوي خبریالان د قانوني اسنادو له نشت څخه ځوریږي او هره شېبه له دغو هېوادونو څخه شړل کېدلای او بېرته د واکمنې ډلې لاس ته لویدلی شي .

کار، پیسې او کور نه لري او له سختو اقتصادي ستونزو کړیږي.

په لویدیزو هېوادونو کې مېشت کډوال خبریالان بیا خپلې ستونزې لري، خو تر افغانستان، پاکستان و ایرانمېشتو افغان خبریالانو یوځه په امنیت او هوسا شرایطو کې دي، خو د کوربه هېوادونو له فرهنګ و ژبو سره له نا اشنایي کړیږي او له دې څخه ناهیلي دي، چې په خپل مسلک کې به کار وموميکه نه؟

مثبت پرمختګونه بیا دا دي، چې په یو شمېر لویدیزو هېوادونو کې د افغان خبریالانو صنفي جوړښتونه ورو ورو سره منظمیږي او څه خبریالانو خو هڅې پیل کړي، چې په تبعید کې افغاني رسنۍ فعالې کړي، چې په دې توګه په تبعید کې د افغانانو لپاره د معلوماتو سرچینې شي .که د دغو صنفي جوړښتونو او رسنیو ملاتړ و لاسنیوی وشي، تر یوه بریده به د سانسور او محدودیت هغه کنګلونه مات کړي، چې په وطن کې یې د افغانانو د بیان د ازادۍ حق ورځخه تروړلی دی .

د ۲۰۲۴ کال د می درېیمه، د رسنیو د ازادي درېیمه نړیواله ورځ ده، چې افغانان یې د ویرې او هیلو ترمنځ تېروي .د ویرې و تمې د دغې دایرې توره برخه لویه ده او رڼا لږ لیدل کیږي .

له افغان خبریالانو د ملاتړ سازمان د نورو افغان بنسټونو او مستقلو رسنوالو ترڅنګ هڅه کوي، روښانه نیمدایره پراخه کړي او د افغان خبریالانو لپاره د رڼا دریڅې پرانیزي .

مورږ د بدیل رسنیز ډګر د رامنځته کولو په لټه کې یو .که څه هم په دې کلک باور لرو، چې په وطن کې دننه رسنیز فعالیت تر بل هرڅایه ډېر اغېزناک او اړین دی، خو بهر هم لاس ترزنې کېناستل په کار نه دي .مورږ باید د افغانستان راتلونکي ته د مدني ټولنې پر بنسټونو ولاړه یوه رسنیزه ټولنه دې ته وروزو او د بشري و تخنیکي ظرفیتونو له اړخه یې پر خپلو پښو ودروو، چې افغانستان ته د ولسواکۍ بېرته ورستنېدو سره د هغه مختګ او بشپړتیایي مزل نوي منزلونه ووهلای شي، داسې یو حق او امتیاز، چې د افغانستان خلک یې وړتیا هم لري او اړتیا یې هم .

د مې درېیمه، د رسنیو د ازادۍ نړیواله ورځ دې د نړۍ ټولو خبریالانو او په ازادۍ باورمن هر افغان رسنوال ته مبارک شي!

له افغان خبریالانو د ملاتړ سازمان